

# د افت ضد درملو خونديتوب –
# د ځان محافظتي اسباب

معلوماتي پاڼه

## د ځان محافظتي اسباب څه دي؟

د ځان محافظتي اسباب هغه تجهيزات دي چې بدن ته د افت ضد درملو د داخلېدو يا سرايت کولو د مخنيوي لپاره اغوستل کېږي. ډېرى وختونه د افت ضد درملو پاته شوني کله چي له ډېرو اوبو سره ګډ شي اويا د ډېر ميده ګرز په شان وي په آسانی سره د ليدلو وړ نه وي. څکه نو د افت ضد درملو د خطرونو د مخنيوي لپاره بايد په محافظتي اسبابو هرڅومره ډېر چي امکان ولري هغومره ځان خوندي شي.
تل د ضروري محافظتي اسبابو لپاره د افت ضد درملو تر کارولو مخکي د هغو ټاپه وګورئ.



د افت ضد درمل د لازمي وسيلې پرته په سترګو د ليدلو وړ نه دي. د ځان محافظتي اسباب د افت ضد درملو له خطر سره د مخامخ کېدلو په مخنيوي کي مرسته کوي. ١

## د ځان د محافظتي اسبابو مثالونه؟

د ډېرو لږ يا منځني خطر لرونکو د افت ضد درملو لپاره لږ ترلږه لاندني محافظتي اسباب ضروري دي:



| خولی | ربړي دسکلي | محافظتي عينکي | مخ پټوونی | موزې | د کار کالي [٢] |
|---|---|---|---|---|---|

## د ځان د محافظتي اسبابو په اړه مشوری



:٣ د درملو د تيارولو لپاره محافظتي اسباب

١. د پرتوګ يا پتلون پايڅي پر موزو سربېره کړئ ترڅو موزو ته د افت ضد درملو د توی کېدو يا ور ننوتلو مخنيوی وشي.
٢. که چيري مخکه دواپاشي کوئ نو لستوني پر دسکلو (دسکشو) راسربېره کړئ، او که تر سر لوړ ځای دواپاشي کوئ نو لستوني په دسکلو (دسکشو) کي دننه کړئ.
٣. هغه ځايونه په پلاستر بند کړئ چي د افت ضد درمل ځني داخلېدای سي، لکه د کالو، دسکلو (دسکشو) او ... څيري يا پري سوي برخي.
٤. په نږدې شاوخوا کي پاکي اوبه کېښږدئ ترڅو له بدن سره د افت ضد درملو د تماس په صورت کي هغه پرېولی.
٥. که چيري د افت ضد درملو له خطر سره مخامخ کېږئ، نو سمدستي کار بند کړئ. ځان پرېمينځئ او د کار د بيرته پيلولو ترمخه د هغي ستونزي چاره وکړئ چي له امله يي د افت ضد درملو ستاسو له بدن سره تماس پيدا کړی دی.
٦. د هغو دسکلو (دسکشو) له کارولو څخه ډډه وکړئ چي له پنبي او څرمن څخه جوړي شوي وي، څکه چي پنبه او څرمن د افت ضد درمل جذبوي او بدن ته يي انتقالوي. همدا راز، د درملو له آثارو څخه په سم ډول د څرمن پاکول هم يو ستونزمن کار دی.
٧. د افت ضد درملو د محلول د تيارولو په وخت کي يو اضافي اوبه نه جذبوونکی پيش بند اويا جامي هم واغوندی.

ترتيب کوونکي: فرانک زلوم، پات تامپسن، نهضت الله نهضت (پين)، مارک هيندرسن او مارک بيل، جولای ٢٠٠٩

**ماخذونه:** د کوچنيو کروندو لپاره د افت ضد درملو خونديتوب، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ٢١٥٥٥ ګڼه
د افت ضد درملو خوندي او اغېزناک استعمال، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ٣٣٢٤ ګڼه

**د انځورونو کريډيټ:** [١] د پټاتو نړيوال مرکز، [٢] د کوچنيو کروندو لپاره د افت ضد درملو خونديتوب، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ٢١٥٥٥ ګڼه، تصحيح کوونکی مارک هيندرسن، [٣] د افت ضد درملو خوندي او اغېزناک استعمال، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهنيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ٣٣٢٤ ګڼه

**د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ:** نړيوال پروګرامونه: http://ip.ucdavis.edu

**د خپرولو حق د کاليفورنيا پوهنتون له ريجينټز ډاويس څانګي سره، ٢٠١١. ټول حقوق خوندي دي.**